# الهی کلام

# څه دی؟

دا ښه خبره ده چه تاسو د بائیبل په پیغام د فکر کولو لپاره وخت راپیدا کړېدی. ښایی چه تاسو د مذهب په باب محتاط یاست. کلیسا ته تلل، رسمونه پځای کول او د عنعناتو تعقیبول. او مونږ ستاسو سره موافقت لرو. بائیبل تعلیم ورکوي چه لوی خدای د هغو سړو او ښځو په زړونو کښی اوسیږی چه د ده غږ اوري. باید مونږ یوازی د هغو رسمونو پسی لاړ شو چه پخپله په بائیبل کښی بیان کړی شویدي – او په بائیبل کښی د هغو شمېره ډېره کمه ده. دوه لوي رسمونه هره هفته دحضرت عیسی په یا دو کښی په اوبو کښی د تعمید او د ډوډی د ماتولو دي.

او یا ښایی چه تاسو یو معمولی کس یاست چه خدای پخپل ژوند کښی غواړئ، لاکن زیات ژورو ته نه ځئ. کیدای شی چه دا زمونږ څخه د ډېرو کسانو په باب رښتیا ده څوک چه یوه مذهبی پا ټه لولي، د بائیبل په باب په یوه کانفرنس کښی ګډون کوي او یا په باره کښی یی څېړنی کوي. دا هېښوونکې خبره ده چه مونږ په لوي خداي کښی یقین لرو؛ ځکه چه هغه په حقیقت کښی وجود لري. لاکن بیاهم داسی خبرې دي چه لا کشف کولو ته پاتی دي – او دا د خداي د کلام، د بائیبل د مطالعې کولو په واسطه مونږ هغه پېژندلی شو او د ده په ابدي پلان کښی ونډه اخستی شو. او دا کتاب د ده په ارواح لیکل شوېدی، چه په هغو کسانو یی اغېزه کړېده، چه دا یې لیکلی دی. دا د نورو کتابو په شان یوازی د انسانانو توري نه لري. همدا سبب دی چه دا کتاب دومره د مطالعې وړ دی.

یا کېدای شی چه تاسو دا فکر کوئ چه هر څه درته معلوم دی. تاسو دا ګمان لرئ چه تاسو په بائیبل نظر اچولی دی او په هرڅه پوهېږئ. لاکن که تاسو ډېر زیات صمیمیت لرئ نو ستاسو به معلوم وی چه څه شی پاتی دی. دا لاهم د ګوګ والي احساس دی، د راتلونکی وېره او ستاسو د نهائی سرنوشت د اطمینان کمبود دی ... دا هغه شک دی چه د تور سپي په شان د ډېرو زیاتو سړو او ښځو پسې د هغوی د هدیرې تر رسېدو پورې ګرځي. او تاسو ته به مونږ دا وایو چه یو ځل بیا کوشش وکړئ. ښایی چه د بائیبل په مطالعه کښی د انسان له خوا د کېدونکي تفسیر له کبله ځنی خړپړتیا پیدا شوی وي. بیا د بائیبل متن ګورئ.

او یا تاسو عیسائی مذهب "یوازی د روشنفکری د یادولو وړه پېښه " ګڼئ،د لږې مودی د پاره د لوبې یو شغل، یو بل جلب کوونکی شی، په لیاره کښی یو بل ښار – چه

په هر حالت کښې تاسو د مرګ خوا ته بوځي. ژوند دومره لنډ دی چه پکښې داسې وضع نه ده اختیار کول پکار. یوه ورځ به تاسو هرو مرو په قبر کښې د ابدی خوب د پاره پرېوزئ. یوه ورځ د مرګ قطعیت به ستاسو سره مخامخ شي. اوس د بائیبل متن ته په منصفانه ډول پام وکړئ. لطفاً د خپل ځان په خاطره د خپل ژوند څخه یو څو دقیقې پدی د فکر کولو لپاره و بخئ.

زه اوس د دې پوښتنې ځواب ورکولای شم چه، ***الهی کلام څه دی؟***

مهربانی وکړئ او په انجیل کښې میتهیو 1:1 ګورئ. دا د الهی کلام په باب د میتهیو د تشریح شوروعات دي. مونږ لولو:

> *و عیسی مسیح د نسل کتاب، د ډېوډ ځوی، د ابراهیم ځوی.*

دا هغه شي نه دی چه مونږ توقع یې لرو. هغه وائی چه عیسی د ډېوډ او د ابراهیم د اولادو څخه دی. او دا خبره د میتهیو د پاره د الهی کلام اغاز دی. پال هم همد غسی شان ولید. ګېلېټېنز 3:8: ته ګورئ؛

> *او متبرک کتاب، پدی پېش بینې کولو چه خدای به د عقیدی په واسطه بې دینه سرې هم په حق ښیي، د الهی کلام څخه مخکښې ابراهیم ته ووئیل، په تا کښې به ټولو قامونو ته برکت ورکول کیږي.*

بس، الهی کلام هغه شي دی چه لپاره یې مونږ د ابراهیم سره لوز کړی و. پال همداسی ډول وائي. که مونږ پری پوهېدلی شو چه الله تعالی د ابراهیم سره څه لوز کړی و. نو مونږ پوهیدلي شو چه الهی کلام څه دی. نو راځئ چه په توراتو نظر واچوو او ګورو چه لوی خدای ابراهیم ته څه وئیلی وو. مونږ د بائیبل لومړي کتاب جېنېسس 17:8: ګورو:

> *او زه به تاسو ته، او ستاسو څخه پس ستاسو تخم ته، هغه ځمکه درکوم چېرته چه تاسو نا اشنا یاست، د کېنان ټوله ځمکه چه تل ترتله به ستاسو په ملکیت کښې وي؛ او زه به د هغوی خدای یم.*

نو ابراهیم ته ووئیل شو چه دی او د ده اولادونه به د تل د پاره پدی نړۍ کښې اوسی. نو د ابدی ژوند یوه نظریه ده چه په توراتو کښې ښکاره کړی شوی ده. دا خبره په پام کښې وساتئ – ځکه چه د بائیبل اساسی پیغام له شوروع نه تر اخره پوری هماغه دی. دا څنګه کېدی شوه؟ جېنېسس پلو 17،18: 22 ته پام وګرځوئ:

*په برکت کښې به دې نېکمرغه کوم، او په افزائش کښې به ستاسو تخم ډېر زياتوم لکه څنګه چه په اسمان کښې ستوري دي، او د سمندر په غاړه شګې دي؛ او ستاسو د ښمنانو په ور باندې ستاسو د اولادونو قبضه وي؛ او ستاسو په تخم کښې به د نړۍ ټول قامونه برکت مومي؛ ځکه چه تاسو زما غږ ته غاړه کېښودلې ده.*

د ابراهيم يو ځوى وزېږيد چه د ټولې نړۍ د برکت منبع شو. نو په بائيبل د پوهېدلو لاره يوازې د دې کتلو ده چه بائيبل پخپله څه وائى او څنګه يې مونږ ته تفسير کوي. اوس چه مونږ ځينې توري لوستلي دي هغه په انجيل کښې ليکل شويدي – په :25،26 :3 فصلونو کښې. راځئ چه د هغو تفسير ګورو.

*تاسو د پيغمبرانو بچيان ياست او د هغې عهدنامې چه خداى ستاسو د پلرونو سره کړېدې او ابراهيم ته ووئيل شول چه ستا په تخم کښې به د نړۍ ټولو خلکو ته برکت رسيږي. ستاسو لپاره لومړى خداى دى چه خپل ځوى عيسى يې روز لى دى او تاسو د نېکمرغه کولو لپاره استولى دى او تاسو ټولواړه د بې عدالتۍ څخه اړول شوي ياست.*

نو د ابراهيم تخم څوک دى؟ عيسى مسيح. او هغه برکتونه څه دي چه دى به د ټولې نړۍ په سړو او ښځو باندې شيندي؟ دا برکتونه د ګناه د معافۍ او د نجات دي. راځئ چه وړاندې ځو. د ګېلېټينز 3:16 ته:

*اوس د ابراهيم او د ده د تخم لوزونه کړى شول. دى د ډېرو سړو د تخم خبرې نه کوي بلکه د يوهَ کس د تخم خبره کوي. او د ده تخم عيسى دي.*

نو د ابراهيم تخم، يوازينى انسان عيسى و. لاکن هغه يو سړى څنګه دومره زيات انسانان کېداى شو، لکه په اسمان کښې د ستورو په شمېر کښې؟ راځئ چه ګېلېټينز 27-29 : 3 ولولو.

*هر څومره زيات شمېر کښې چه تاسو عيسوى کړي شوي ياست، تاسو د عيسى سره يوځاى شوي ياست. هيڅوک يهودى نه دى او نه خو يوناني دى. هيڅوک په بندۍ کښې نه دى او نه خو ازاد دى، نه څوک نر دى او نه ښځينه ؛ ځکه چه تاسو ټولواړه عيسى مسيح ياست. او که تاسو د عيسى ياست، نو تاسو د ابراهيم تخم ياست او د لوز سره سم تاسو وارثان ياست.*

نو يوازې هغه څوک چه عيسوى کول يې شوېدى پدغو لوزونو کښې برښه لري. همدغه وجه ده چه که مونږ غواړو چه بچ شو، نو زمونږ عيسوى کول ضرورى ده !

پال ووئیل چه د ده هیله "*د اسرائیلو هیله ده*" (ایکټ 20 : 28). کله چه دی دمرګ سره مخامخ شو، دا د ده هیله وه. "د اسراېیلو هیله". نو عیسوی کول څه دی؟ دا پرخول نه دي. انجیل په یونانی ژبه لیکل شوېدی او د 'عیسوی کول'، د لغت په اړولو معنی د غوټه کولو ده. د دې استعمال د سمندری بېړی د ډوبېدو، په اوبو کښی د غرقېدو او یا د ځنی ټوکر د یوهٔ رنګ څخه په یوهٔ بل رنګ د ډ وبولو په باب کېدو. په میتهیو 16-13 : 3 نظر واچوئ:

*نو عیسی د ګلیلی څخه په اردن کښی جان ته راغی چه په واسطه یې عیسوی کول وشی. لاکن جان یې منع کړ او وې وئیل چه ضرورت خو زما دی چه ستا په واسطه زما عیسوی کول وشی او ته ماته راغلی یې؟ او په ځواب کښی عیسی ورته ووئیل چه اوس دا خبره وزغمه: مونږ ته بایده دي چه مونږ ټول رښتین والی په ځای کړو. نو هغه د ده خبره ومنله. او عیسی، کله چه د ده عیسوی کول وشو، سمدستی د اوبو څخه پورته شو او افرین و چه اسمان د ده د پاره پرانیست او ده د خدای روځ د یوی ښکته کېدونکې کوترې په شان ولیده چه روښانه یې کړو:*

عیسی په او بو کښی "ښکته لاړ" او د هغو څخه "د باندی پاس" راغی. د ده عیسوی کول د یوهٔ بالغ په حیث وشو، نه چه د یوهٔ ماشوم په شان؛ د غوټه کولو په واسطه، نه چه په پرخولو. همدا سبب دی چه دا په یوهٔ سیند کښی وشو. او که د ده عیسوی کول وشو، نو مونږ ټولو ته دا کېدل پکار دي. د غوټې کولو او بیا د پورته کېدلو څخه د عیسی د مرګ او بیاد ژوندي کېدو اشاره کیږي. او مونږ د ده مرګ او بیا ژوندي کېدل د خپل ځان سره د مربوط کولو هڅه کړېده. همدا سبب دی چه دا د ډو بولو په واسطه او نه چه د پرخولو په واسطه حاصل کړی شوېده. رومنز 5-3 : 6 ته ګوری:

*تاسو ته معلومه نه ده چه په لوی شمېر کښی مونږ چه عیسی مسیح ته عیسوی شوی وو، د ده تر مرګه پورې عیسوی شوی وو؟ نوځکه مونږ د عیسوی کېدو په واسطه تر مرګه پوری ورسره ښخ شوی یو. لکه څنګه چه عیسی د لوی خدای په برکت د مړینې څخه بیا پا څېدلی و، مونږ به هم په نوي ژوند کښی تګ کوو. لکه چه مونږ د ده د مړینې په ورته والي کښی کېښودل شوی یو، مونږ به د ده بیا ژوندی کېدو په عمل کښی هم د ده په شان یو:*

همدغه وجه ده چه مونږ ستاسو نه غواړو چه تاسو عیسوی کېږئ – د عیسوی مسیح منل د خپل ځان هدف وګرځوئ. د عیسی پورې عیسوی کېدو په واسطه مونږ د ده

برښه کېږو او ځکه لوزونه په مونږ باندی هم عملی کیږي. له دی کبله کله چه دی به راستنېږی، مونږ به هم بیا ژوندي شو، په مونږ به قضاوت وشی او که مونږ د لوی خدای په کلیمه له ایمان سره ژوند کړی وی، نو مونږ ته به ابدی ژوند راکول کیږي چه هغه اوس لري. بیا به مونږ پدی نړی کښی د تل د پاره د خدای په پاچاهی کښی اوسو. که تاسو پدی کښی یقین لرئ، نو د ژوند به یوهَ نوې معنی وي. هر څومره مادی مسایل چه مونږ لرو، مونږ به پوهېږو چه دا یوازی عارضی دي او کله چه عیسی راستنیږي، دی به مونږ ته یو نوی او ابدی ژوند وبخی. همدا سبب دی چه په بائیبل او په عیسی کښی یو حقیقی امید دی. زمونږ په وړاندی امید دومره لوی دی چه زمونږ موجوده مسلی دومره لوی نه ښکاري.

لاکن دا څنګه کېدای شی چه دا سړی عیسی به مونږ بچ کړی؟ هغه زمونږ نمائنده و او په همدغه علت باید مونږ د ده د مړینې او بیا په ژوندی کېدو کښی عیسوی شو، ځکه چه دی زمونږ په شان و. په هیب 18-14 : 2 نظر واچوئ:

*لکه څنګه چه ماشومان غوښه او وینې غواړی، ده هم دا شیان واخیستل؛ چه د مرګ په واسطه دې هغه شیطان تباه کړی چه د مرګ قدرت درلود. او هغو ته نجات ورکړی چه په ټول ژوندانه کښی د مړینې په وېره په بندی کښی ور. په حقیقی ډول هغه د فرشته ګانو ماهیت ترلاسه نه کړو، لاکن ده د ابراهیم تخم په ځان واخېست. نو ځکه ده دا خبره ډېره ښه ګڼله چه دی د خپلو ورونو په شان جوړ شی چه دی زړه سواند او د خدای سره د اړه لرونکو شیانو وفادار ستر مذهبی لارښود وي، چه د خلکو د ګناهو په باب مصالحت وکړی شی. ځکه چه هغه پخپله لمسېدلی و، هغه وکړی شی چه د هغو سره مرسته وکړي چه لمسېدلي وي.*

دا وګورئ چه شیطان نه خو ځناور دی او نه اژدهار. دلته مو د دې استعمال د ګناه د سړي په ښه د ښودلو لپاره کړېدی. "*دګناه اجرت په مرګ کښی وی*" (رومنز 23 : 6)، لاکن دلته مونږ لولو چه "شیطان" "د مرګ قدرت لری" باید مونږ د خپلو طبعیتونو سره مجادله وکړو، نه چه زمونږ څخه دباندی د ځنی ناځرګند وجود سره. ایت 14 همدغه خبره څوځله کوي- عیسی پخپله زمونږ په شان طبیعت در لود. بیاهم زیاتره 'عیسائی' ډلې دا تلقین کوي چه په تثلیث کښی درې خدایان دي او یو ورکښی عیسی دی. لاکن دا هغه شی نه دی چه بائیبل وائي. او د هیبریوز ترمخی دا ډېره مهمه ده چه مونږ په صحیح ډول په عیسی باندی پوه شو. هغه بیخی زمونږ د طبیعت په شان و. لیکونکي څلور ځله پدی باندی فشار اچولی دی. دی زمونږ پشان

لمسېدو. او مونږ څنګه لمسېږو؟ د خپل انسانی فطرت په واسطه. په جېمز 1 :13-15 باندی نظر واچوئ:

*هغه څوک چه لمسېدلی وي باید مه ووائي چه زه د خدای لمسېدلی یم، ځکه چه خدای د بدۍ سره نه شی لمسول کېدای او نه هغه کوم سړی لمسولی دی: لاکن هر انسان لمسیږي کله چه هغه د خپل شهوت له کبله بې لاره شوی او غولېدلی وي. او کله چه شهوت پیدا شو، په واسطه یې ګناه راځي او کله چه ګناه له منځه لاړه، نو مرګ منځ له راځي. د دې معنی ده چه عیسی زمونږ انسانی فطرت درلود. خدای نه شی لمسېدلی، دا وائي، لاکن عیسی لمسېدلی و، هیبریو وائي.*

نو عیسی پخپله خدای نه و . هغه یو انسان و، په زېږېدو د خدای ځوی و او د مېري په واسطه د ډېوډ او ابراهیم زوزات و. همدا شان خدای زېږېدلی نه شی، لاکن عیسی زېږېدلی و. خدای مړ نه شی کیدای؛ لاکن عیسی مړ شوی و. مونږ خدای لیدلی نه شو، لاند خلکو عیسی لیدلی او لمس یې کړی و. عیسی د خپلې زېږېدنی څخه مخکښی وجود نه درلود. هغه د مېري په واسطه د خدای ځوی و. په لیوک 1 : 31-35 نظر وا چوئ:

*او، وګوره، ته به په خپلې زیلانځ کښی حامله کېږی او یو ځوی به زېږوې او د ده نوم به عیسی کیږ دې. هغه به عظیم وي او د تر ټولو نه لوي ذات ځوی وي: او لوی څختن به ورته د ده دپلار ډېوډ تخت ورکوي: او هغه د تل د پاره د جېکب په کور حکومت کوي؛ او د ده سلطنت به هیڅ حد نه لري. هغه وخت مېري فرشتې ته ووئیله، دا به څنګه کیږی ځکه چه زه هیڅ سړی نه پېژنم؟ او فرشتې ورته ځواب ورکړ او وي وئیل، مقدس روح به در باندی راځي او د ترټولو نه لوي ذات قدرت به در باندی حاوي وي: او ځکه چه هغه مقدس ذات چه ته به زېږوې، د خدای د ځوی په نامه به یاد یږي.*

د مستقبل ټولې صیغې ګورئ! دی به د خدای ځوی وي، مېري به په خپل زیلانځ کښی حامله شی - دلته د عیسی شروعات کېدو، که څه هم د عیسی مفکوره، د عیسی نښه له شوروع راهیسی تل د خدای سره وه. ګورئ چه مېري یوه عمومي ښځه وه. عیسی د ابراهیم او د ډیوډ زوزات و او دا یوازی له دې کبله کېدای شو چه د ده مور د هغوی د اولادونو ځنی وه. که عیسی خدای و، نو مېري د خدای مور ده او هغه یوه عادی ښځه نه وه. د بائیبل د تعلیم ترمخې که عیسی د خدای ځوی و او د مېری په واسطه د

"انسان ځوی" هم و چه د ابراهیم او د ډیوډ زوزات و، نو ځر ګنده ده چه مېري یوه عامه ښځه وه. نو دا یا خو هرڅه دی او یا هیڅ – د رښتینی عقیدې یو سیستم او یا د غلطې عقیدې یو سیستم. دا مهمه ده چه په صحیحه خبره اعتقاد ولرو، ځکه چه عقیده پدی باندی اغېزه کوي چه مونږ څنګه ژوند کوو. په هیبریوز 15،16 : 4 باندی نظر واچوئ:

*مونږ داسی لوی ملا نه لرو چه وربانډی زمونږ د ناتوانیو د احساس اغېزه نه شی؛ لاکن دی په هر شي کښی زمونږ په شان لمسېدو، بیا هم بی له ځنی ګناه. د دې د پاره راځئ چه مونږ په زړه ورتوب سره د لطافت تخت ته ځو چه مونږ زړه سوی واخلو او د ضرورت په وخت د مرستې توفیق ترلاسه کړو.*

ځکه چه عیسی زمونږ په شان طبیعت درلود، مونږ د ده په واسطه په اعتماد سره لوی خدای ته دعا کولای شو. زمونږ د انسان په شکل کښی د ځنی ملا، د کلیسا د و دانیٔ او یا د پادریٔ حاجت نشته چه زمونږ دعاګانې د قبلېدو وړ شی.

نو ما چه کومې خبرې کړېدي، د هغو لنډیز وړاندی کولای شم:

1. یوازی یو لوی خدای دی، 'تثلیث' نه دی
2. عیسی د خدای ځوی دی او پخپله خدای نه دی؛ د زېږېدو څخه مخکښی ده وجود نه درلود. هغه زمونږ ټولې لمسېدنې او انساني تجربې لرلې لاکن ده هیڅ ګناه نه کړه. ده زمونږ په خاطره خپل ځان په ډېره بېدردیٔ ورکړو لاکن ځکه چه هغه هیڅ ګناه نه وه کړی، نو خدای ده د مړو څخه بیا راژوندی کړو.
3. د یوهَ بالغ په او بو کښی په غوټه کولو په عیسی د عیسوی کېدو په واسطه مونږ د ده په مړینه او په بیا ژوندی کېدو کښی شریک یو.
4. نو کله چه عیسی راستینږي، مونږ به بیا ژوندی کیږو، تر قضاوت لاندی به راشو او د ده په پاچاهیٔ کښی به مونږ ته ابدی ژوند راکول کیږي – چه اساس یی په دی نړیٔ کښی به وي. دا پاچاهیٔ به د هغې نړیٔ په شان وي چه د عدن په باغ کښی وه، کله چه خدای انسان را پیدا کړی و – او د هغی څخه هم ښه. هغی ټولی مسلی چه اوس په دی نړیٔ کښی دي – جنګ، وچکالی، غم او مرګ هم، به په قطعی ډول له منځه ځي – دتل د پاره.
5. د مړینې څخه وروسته مونږ بې هوښه یو د 'دوزخ' معنی یوازی د 'قبر' ده.

6. روح غیرفانی نه ده؛ مونږ د خاورې څخه جوړ یو او خاورې ته بېرته ځو. روح زمونږ په دننه د ژوند قدرت دی، کوم چه خدای زمونږ څخه زمونږ په مړینه بېرته اخلی. مونږ د مرگ څخه پس په هیڅ شعوری توگه وجود نه لرو.

7. 'شیطان' زمونږ دننه د بدو انسانی ارزوگانو یو سمبول دی، د کوم پضد چه راته مجادله کول پکار ده. دا دځنی اژدهار او یا د غتې بلا نوم نه دی چه وجود لري. لوی خدای په سلو کښی سل برښې پیاوړی دی؛ هغه د خپل قدرت هیڅ برښه 'شیطان' ته نه ورکوي. زمونږ ټولې مسلې د خدای څخه راځي، نه چه د شیطان څخه او له دی کبله د هغو مثبت روحی مقصد دی.

8. مونږ پخپله د بائیبل په لوستلو لوی خدای ته رښتینی لاره لټولی شو.

زه درته اپیل کوم چه تاسو د دغو شیانو مطالعه وکړئ او تر هغې پورې خپل ځان ته ارامی ورنه کړئ چه تاسو د رښتینی الهی کلام پوهه نه وي ترلاسه کړی. زه هیله لرم چه تاسو به زمونږ د بائیبل د مطالعې وړیا کورس تعقیب کوئ او د خپل ځان د پاره هدف وټاکئ چه یوه ورځ به په اوبو کښی د غوټه کېدو سره عیسوی کېږئ. نو هله به تاسو د ابدی ژوند هیله کولای شئ. منو چه مونږ د ابدی ژوند تصور نشو کولای. زه یوازی دا پېشنهاد کولای شم چه مونږ د یوې ډېرې اوږ دې کرښې تصور وکړو چه هیڅ پای نه لري او تر ډېر لری والي پورې ځی؛ او پدی ژوندانه کښی مونږ د دې د شروعاتو څخه یوازی په یو څو ملی میتره یو. په حقیقی ډول دا زمونږ هیله ده که مونږ یسوع مسیح ته عیسوی شو او په ده کښی ژوند وکړو. زه در ته تاکید کوم چه تاسو دا ټولې خبرې په جدی ډول واخلئ او دا یوازی مذهب او یو عادی شی مه گڼئ.

(ډنکن هیسټر *Duncan Heaster*)

## د بائيبل په اغېزه ناک ډول لوستل زده کړئ

# وبړيا

بائيبل يو دی لاکن کليساګانې ډېرې دي. زمونږ پېشنهاد دا دی چه د رښتيني پيغام د موندلو لپاره تاسو پخله بائيبل ولولئ. زمونږ عقيده ده چه يوازی يو خدای دی او عيسی د خدای ځوی دی. هغه زمونږ پشان فطرت درلود او بايد مونږ په پوره ډول په غوټه کولو عيسوی شو چه د ده د مړينې او بيا د ژوندي کېدو څخه مستفيد شو. هغه به زر پدی نړۍ کښی (نه چه په اسمان کښی) د خدای د پاچاهۍ د قائمولو لپاره بېرته راشی. لطفاً (لاندينی) عرضی فارم ډک کړئ چه تاسو ته وېړيا يوه کتابچه در ور سيېږي چه در سره د بائيبل په مطالعه کښی کومک وکړي.

------------------------------------------------------------------------------------

نوم:__________________________________________________________

پته: __________________________________________________________

____________________ تيليفون نمبر________________________________

پښتو :

پدی ادرس واستوئ:

بائيبل بېسکس، 49 وډفيلډز ، ساؤتهه کرائېډن، سری CR2 0HJ انګلينډ

(Bible Basics, 49 Woodfields, South Croydon, Surrey CR2 0HJ ENGLAND)